پښتو – دري پینځلس ورځنۍ

# سره میاشت

ارګان نشراتی جمعیت هلال احمر افغانی

شماره: ۳۴

نېټه: ۱٦- ۳۰ جمادی الاولی - ۱۴۴۵ هـ ق






## ننګرهار کې

# د یو ثابت کلینیک د جوړېدو ډبره کېښودل شوه

د روان سپوږمیز کال د جمادي الأولی پر ۲۳مه د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ اړوند دولت اباد سیمه کې د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص په لاس د شاوخوا دوه نیم میلیونه افغانیو په لګښت د سیمې دوګړو له لوري ثابت روغتون ته پر وقف شوې ځمکه د احاطې د جوړښت ډبره کېښودل شوه.

د یاد روغتون د احاطې د ډبرې له اېښودو وړاندې ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص په خپلو څرګندونو کې وویل "افغاني سرې میاشتې په تېر یو کال کې د رواني ناروغانو د دوه نویو مرکزونو پر پرانیستلو سربېره ګڼ روغتیایي مرکزونه ایجاد کړل او هڅه کوو د رواني ناروغانو مرکزونه نور هم زیات کړو".

نوموړي وویل "زمونږ ګډ مسئولیت دی، چې د ولس لاسنیوی وکړو؛ زمونږ دا خدمت به لومړی او وروستی نه وي، مونږ به هره سیمه کې له خپل وس سره سم د ملت خدمت کوو".

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "ترڅو چې ملت افغاني سرې میاشتې ته لاس ورنکړي، نو ممکنه نه ده چې افغاني سره میاشت دې په یوازې ځان د هېوادوالو لاسنیوی وکړي".

قومي مشرانو په خپلو خبرو کې د افغاني سرې میاشتې مننه وکړه، چې د دوی لاسنیوی یې وکړ او دوی ته یې روغتیایي مرکز منظور کړ.

## سرمقاله

### ژمی او د بېوزلو وګړو لاسنیوی!

د کال له څلورو فصلونو وروستی موسم یې د افغانانو او په ځانګړي ډول د بېوزله هېوادوالو لپاره له کړاوونو او ستونزو ډک فصل وي، په دې موسم کې د یخنۍ کچه، د ژوند اړتیاوې او لګښتونه مخ پر بره خېژي او بېوزله هېوادوال د اقتصادي ستونزو له کبله نشي ـ کولی، چې خپلې لومړنۍ اړتیاوې پوره او ژمي ته مناسب چمتووالی ونیسي.

انساني ټولنه له بېلابېلو قشرونو رامنځ ته شوې او په کې ټول لوري یو د بل پر وړاندې ځانګړي مسؤلیتونه او نزاکتونه لري، چې له جملې یې د ټولنې بډای قشر د بېوزلو او اړمنو پر وړاندې د لاسنیوي او هغوی ته د اسانتیاو په برابرولو مکلف دی.

زموږ په مبارک دین اسلام کې له اړمنو وګړو سره مرسته، صدقه او د هغوی د ستونزو حل د الله سبحانه وتعالی په لار کې له غوره اعمالو ګڼل کېږي. مسلمان د مسلمان ورور ګڼل شوی چې باید په درد یې دردمن او په خوښۍ یې خوښ شي. نن سبا چې په بېوزله او بې سرپناه هېوادوالو کوم حالت تېرېږي؛ باید ټول مسلمانان ورونه یې پر وړاندې د مسؤلیت احساس وکړي، د هغوی مرستې او لاسنیوي ته راودانګي او د خپل توان په اندازه یې ملاتړ وکړي. شتمن او بډایه هېوادوال د اسلامي ورورولۍ له مخې بېوزلو او اړمنو هېوادوالو ته د خوراکي توکو د برابرولو سربېره، د کونډو، یتیمانو او ناچاره وګړو د مناسب پوښاک، ګرمو جامو او د هغوی د هستوګنځایونو د ګرمولو او سرپناه چمتو کولو دنده هم پر غاړه لري.

دا چې سږکال ژمی د بېوزلو هېوادوالو سربېره هرات کې د زلزله ځپلو او له ګاونډیو هېوادونو د راستانه شویو کډوالو لپاره هم یو له ستونزو او کړاوونو ډک ژمی دی، نو نړیوالو بشرـپاله ادرسونو، کورنیو خیریه ټولنو او شتمنو وګړو ته پکار ده، چې په دې حساسو شېبو کې خپل مسؤلیت په ښه شان اداء او د اړمنو وګړو کړاو او ستونزې راکمې کړي.

افغاني سره میاشت په هېواد کې د یوازینې ملي خیریه بنسټ په توګه تل هڅه کوي؛ ترڅو د اړمنو او بېوزله هېوادوالو ستونزې او کړاوونه راکم او هغوی ته یو هوسا ژوند برابر کړي.

یاد بشرـپال خیریه بنسټ د دولت له بودیجوي واحد څخه بهر دی او خپل ټول بشري فعالیتونه د خیرپالوو ګړو نورو خیریه بنسټونو په ملاتړ ترسره کوي، افغاني سره میاشت یو ځل بیا په ټولو هېوادوالو او په ځانګړي ډول د ټولنې په بډایه قشر غږ کوي، چې د ژمي په موسم کې د بېوزلو، کډوالو او پېښځپلو هېوادوالو د لاسنیوي په موخه ددې خیریه ملي ټولنې هر اړخیز ملاتړ او لاسنیوی وکړي.

اداره




## سرپرست ریاست عمومی هلال احمر افغانی

### از مرکز تداوی بیماران روانی هلال احمر افغانی و مرستون ولایت ننگرهار بازدید نمود

به تاریخ ۲۳ و ۲۴ جمادی الاولی محترم مولوی مطیع الحق خالص سرپرست ریاست عمومی هلال احمر افغانی از مرکز حفاظت و تداوی بیماران روانی هلال احمر افغانی و مرستون در سطح ولایات شرقی بازدید نمود. موصوف در این بازدید ابتدا با بیماران روانی دیدار نموده و ضمن احوال پرسی آنها، خدمات ارائه شده به بیماران را ارزیابی نمود. وی به بیماران روانی اطمینان داد که در حد توان به آنها کمک خواهد کرد و بزرگترین امید او سلامتی آنها ست.

موصوف توصیه های لازم و صحت یابی برای مسئولین و داکتران مرکز حفاظت و تداوی بیماران روانی ارائه نموده و به آنان هدایت داد که در حین رسیده گی به بیماران نهایت سعی و تلاش نموده و در معالجه بیماران از دلسوزی کار گیرند. همچنین محترم خالص در سطح زون شرقی در مرستون ننگرهار با مسئولین مربوطه دیدار نمود، مشکلات آنها را شنید و برای حل آن اطمینان به آنان داد.

## اریبا (MTN) مخابراتي شبکې

### ۵۰۰ بستې

### خوراکي او غیر خوراکي توکي

### افغاني سرې میاشتې ته وسپارل

د جمادي الأولی پر ۲۸ مه، د MTN مخابراتي شرکت د هرات ولایت ۵۰۰ زلزله ځپلو کورنیوسره د ۵۰۰ خوراکي او غیرې خوراکي بستو مرسته د افغاني سرې میاشتې مرستیال ښاغلي الحاج ملا نورالدین ترابي ته وسپارله.

د یادې مرستې د سپارلو پر مهال ښاغلي ترابي د MTN شرکت منته وکړه، چې تل یې افغاني سرې میاستې ته د مرستې لاس ورکړی.

نوموړي وویل "یاده مرسته به ډېر ژر د هرات ولایت پر سروې شویو زلزله ځپلو کورنیو ووېشل شي".

په یاده مرسته کې د بېلابېلو خوراکي توکو تر څنګ له یخنۍ د ځان ساتلو په موخه د زلزله ځپلو لپاره ۱۰۰۰ جامپرونه او ۵۰۰ کمپلې هم شاملې وې.




## کشور قطر ۵۰۸ تُن

### مواد غذایی و غیر غذایی

### را به هلال احمر افغانی تسلیم نمود

به تاریخ ۱۷ جمادی الاولی، کشور قطر ۵۰۸ تُن کمک مواد غذایی و غیز غذایی را به زلزله زدگان هرات در میدان هوایی خواجه عبدالله انصاری ولایت هرات به مولوی عبدالطیف ثابت معاون سکرتر جنرال هلال احمر افغانی تسلیم نمود.

در جریان تسلیمی این کمک ها، محترم عبدالطیف ثابت از همکاری کشور قطر با هلال احمر افغانی تشکری نموده و گفت؛ از روز اول، هلال احمر افغانی تلاش های خود را برای جذب کمک های بین المللی به هموطنان زلزله زده نموده است و به تلاش های خود ادامه خواهد داد".

محترم عبدالطیف ثابت گفت "ما از سازمان های بین المللی تقاضا داریم تا در ساخت خانه برای زلزله زدگان کمک های گسترده ای انجام دهند تا مردم آسیب دیده از سرپناه امن برخوردار شوند".

کمک های مذکور قطر شامل ۱۱۲۰۰ تخته کمپل، ۴۰ تُن خرما، ۲۰۰۰ بسته حفظ الصحه، ۲۵۰ باب خیمه و ۳٦۴۲ بسته مواد غذایی بود.





## افغاني سرې میاشتې

### پر ۴٦۱۷ کورنیو څه له پاسه ۵۱ ټنه خامه غوښه ووېشله

افغاني سرې میاشتې ټولنې د جمادي الأولی په وروستیو دوو اونیو کې د هېواد په ۱۰ ولایتونو(پکتیا، لوګر، پکتیکا، میدان وردګ، کابل، پروان، کاپیسا، ننګرهار، کونړ او لغمان) کې ۴٦۱۷ بېوزله کورنیو ته ۵۱،۳ تنه خامه غوښه ووېشله.

د یادو بېوزلو کورنیو له جملې پکتیا، لوګر، پکتیکا، میدان وردګ، کاپیسا، کونړ او لغمان ولایتونو څخه هر ولایت کې ۵۱۳ کورنیو، پروان کې ۳۰۰، کابل کې ۵۵۵ او ننګرهار کې ٦۸۴ کورنیو ته یاده خامه غوښه ووېشل شوه. یاده مرسته چې د سعودي عربستان لخوا چمتو شوې وه، هرې کورنۍ ته لس کیلو خامه غوښه ورکړل شوه.

روز جهانی رضاکاران در ۳۴ ولایت تجلیل شد /۲ مخ

کابل کې د روږدو وګړو له مرکز سره د غیر خوراکي توکو مرسته وشوه /۲ مخ

مبلغ ۲،۴۵۵،۰۰ افغانی برای ۴۹۱ خانواده متگدی مساعدت صورت گرفت /۲ مخ



## فراه کې پر ۱۰۰۰ کورنیو

### دېرش میلیونه افغانۍ ووېشل شوې

د افغاني سرې میاشتې له لوري د جمادي الأولی پر ۲٦مه د فراه ولایت په بالابلوک ولسوالۍ کې پر ۱۰۰۰ اړمنو کورنیو دېرش میلیونه افغانۍ ووېشل شوې.

یاده مرسته کې هرې اړمنې کورنۍ ته ۳۰۰۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.



## ۱٦۲ کودک

### مصاب به بیماری سوراخ قلب را به شفاخانه های داخلی معرفی نمود

هلال احمر افغانی در ۱۵ روز اخیر جمادی الاولی یک بار دیگر ۱٦۲ کودک مبتلا به بیماری سوراخ قلب را برای تداوی و عملیات به شفاخانه های داخلی در کابل معرفی نمود که تمام هزینه تداوی وعملیات این بیماران از طرف هلال احمر افغانی پرداخت می شود.

قابل ذکر است، که هلال احمر افغانی طی ۱۷ ماه گذشته ۲٦٦۲ کودک مبتلا به این بیماری را برای تداوی و عملیات به شفاخانه های مختلف کشور معرفی نموده است.



## پر ۴۸۴٦ کورنیو

### څه له پاسه ۳۰۰ ټنه خوراکي توکي ووېشل شول

د افغاني سرې میاشتې له لوري د جمادي الأولی پر دویمه نیمایي کې پر ۴۸۴٦ بېوزلو، اړمنو او پېښځپلو کورنیو ۳۰۰،۴۵ ټنه خوراکي توکي و وېشل شول.

د یاد شمېر کورنیو له جملې ۴۱۰۰ زلزله ځپلو کورنیوسره په هرات، ۵۰۰ بېوزله کورنیوسره په کابل، ۲۰۰ اړمنو کورنیوسره په میدان وردګو او ۴۵ کورنیوسره په نورستان ولایت کې د خوراکي توکو مرسته وشوه. یاده مرسته چې د ملک سلمان مرستندوی بنسټ له لوري چمتو شوې وه؛ هرې کورنۍ ته ٦۲ کیلو ګرامه خوراکي توکي ورکړل شول، چې په کې ۴۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو وریژې، ۵ لېټره غوړي، ۵ کیلو بوره، ۸ کیلو لوبیا او ۲ کیلو خرما شامله وه.

**افغاني سره میاشت د ناپلوۍ د اصل پر اساس په وسله والو شخړو کې د هیڅ لوري پلوي نه کوي!**

# روز جهانی رضاکاران

## در ۳۴ ولایت تجلیل شد

از روز جهانی رضاکاران به تاریخ ۲۲ جمادی الاولی در ۳۴ ولایت کشور از سوی هلال احمر افغانی طی مراسمی تجلیل به عمل آمد.

در محافل مذکور که برای بزرگداشت این روزدایر گردیده بود، به اشتراک کننده گان در مورد ارزش فعالیت های رضاکاران و عملکرد آنها گفتگو و بحث های همه جانبه صورت گرفت.

روز جهانی رضاکاران همه ساله در پنجم دسمبر در سراسر جهان به منظور اهمیت و ارزش اصل رضاکاری تجلیل میشود که هدف آن تشویق مردم به خدمات رضاکارانه و احترام به کارمندان رضاکار است.




در این نشست ها، مسئولین محلی هلال احمر افغانی در سخنان خود گفتند که خدمات رضاکارانه یکی از اصول اساسی هلال احمر افغانی است که بر اساس آن گروهی از مردم با رضایت خویش همراه با کارمندان این نهاد خیریه به هموطنان خدمات می کنند.

به اساس گفته های مسؤلین مذکور، در حال حاضر هلال احمر افغانی ۲۴۸۷۹ تن رضاکار در سراسر کشور دارد که همیشه دوشا دوش کارمندان هلال احمر افغانی در مواقع عادی و اضطراری به نیازمندان و آسیب دیده گان خدمات ارائه میکنند.

افغاني سرې میاشتې

## ۲۷۸۶۸ وګړو ته روغتیایي خدمات وړاندې کړې

د جمادي الأولی له ۱٦ مې تر ۳۰مې افغاني سرې میاشتې په کابل، ننګرهار، جوزجان، پنجشیر، دایکندي، کونړ او کندز ولایتونو کې د خپلو ثابتو روغتونونو او ګرځندو روغتیایي ټیمونو له لارې ۲۷۸٦۸ هېوادوالو ته روغتیایي خدمات ترسره کړي.

د یاد شمېر ناروغانو له جملې ۲۱۸۷ تنو ته د کابل، ۱۸۳۲٦ تنو ته د ننګرهار، ۱۰۰۴ تنو ته د جوزجان، ۱۳۸٦ تنو ته د پنجشېر، ۲۳۲ تنو ته د دایکندي، ۳۹۸ تنو ته د کونړ او ۴۳۳۵ تنو ته د کندز ولایت اړوند ثابتو روغتونونو او ګرځندو روغتیایي ټیمونو له لارې اړین روغتیایي خدمات وړاندې شوي دي. په ترسره شویو روغتیایي خدماتو کې په وړیا ډول معاینات، درملنه، ښځو او ماشومانو ته د واکسین، د ښځینه وو د ولادت، ټیپانو ته پانسمان، خوارځواکو ماشومانو ته د خوراکي توکو وېش او ناروغانو ته بېلابېلې اړینې روغتیایي مشورې ورکول شامل دي.



## مبلغ ۲،۴۵۵،۰۰ افغانی برای



## ۴۹۱ خانواده
## متگدی مساعدت صورت گرفت

به تاریخ های ۱۷، ۲۲، ۲۷ و ۲۹ جمادی الاولی هلال احمر افغانی، ۲،۴۵۵،۰۰۰ میلیون افغانی کمک نقدی برای ۴۹۱ خانواده متگدی در ولایات غور، بامیان، پنجشیر، سمنگان و پکتیا توزیع نمود.

از جمله این تعداد خانواده های متگدی، برای ۳۹۵ خانواده در ولایت غور، ۱۰ خانواده در ولایت بامیان، ۲۱ خانواده در ولایت پنجشیر، ۲۳ خانواده در ولایت سمنگان و ۴۲ خانواده در ولایت پکتیا کمک نقدی صورت گرفت که به هر خانواده متکدی مبلغ ۵۰۰۰ افغانی کمک نقدی مساعدت شد.

## کابل کې د روږدو وګړو له مرکز سره د غیر خوراکي توکو مرسته وشوه




د افغاني سرې میاشتې له لوري د جمادي الاول پر ۲۹مه د کابل ولایت د څرخي پله په سیمه کې د روږدو وګړو له مرکز سره د غیر خوراکي توکو مرسته ترسره شوه، چې په یاد مرکز کې ۷۵۰۰ تنه روږدي وګړي تر درملنې لاندې دي.

په یاده مرسته کې چې د ترکیې هېواد له لوري چمتو شوې وه؛ ۹۰ ټنه د ډبرو سکاره، ۳۰ ټنه بلوط لرګي، ۵ ټنه ارچه لرګي، ٦۰ اصلي ترکي بخارۍ، ۲۰۰۰۰ لېتره ډیزل تېل، ۳۰۰۰ لېتره پټرول او ٦۰۰۰۰ متره د کالیو ټوکر شامل و.



هلال احمر افغانی

## ۱۵۷۱۰ وعده غذایی
## را برای مهاجرین عودت کننده توزیع نمود

هلال احمر افغانی برای ۱۵۷۱۰ مهاجرین که از تاریخ ۱٦ الی ۳۰ جمادی الاولی از کشورهای همسایه در ولایات ننگرهار و کاپیسا عودت نموده بودند، غذای پخته توزیع نمود.

از جمله این مهاجرین برای ۱۰۳۰۰ مهاجرین عودت کننده در ولایت ننگرهار و ۵۴۱۰ تن در ولایت کاپیسا غذایی پخته توزیع شده، که شامل برنج، گوشت، سبزی، میوه تازه، آب آشامیدنی و خرما می باشد.

د افغاني سرې میاشتې

## له ښوونیزو مرکزونو ۹۱ تنه فارغ شول

د جمادي الأولی په وروستیو پینځلس ورځو کې د افغاني سرې میاشتې اړوند د لغمان، میدان وردګ او دایکندي ولایتونو له ښوونیزو مرکزونو څخه ۹۱ تنه زده کونکي د شپږو میاشتو زده کړو له بشپړولو وروسته فارغ شول.

د یادو فارغو شویو زده کونکو له جملې ۳٦ تنه په میدان وردګ، ۳۰ تنه په دایکندي او ۲۵ تنه په لغمان ولایت کې د افغاني سرې میاشتې له ښوونیز مرکز څخه فارغ شوي.

د یادونې وړ ده چې یادوزده کونکو ته د کمپیوټر ترڅنګ د ریاضي، انګلیسي او لیک لوست په برخه کې هم زده کړې ورکړل شوې دي.



د اړیکو شمېرې: ۰۷۲۸۹۰۰۶۷۴ – ۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳
پست بکس: ۳۰۶۶
پته: افغانستان، کابل، پینځمه ناحیه، سیلو افشار،
د افغاني سرې میاشتې مرکزي دفتر
www.arcs.af ir@arcs.af
@arcsafghanistan

# پردی کټ تر نیمي شپې وي!

خیال محمد توحیدیار

پردی کټ تر نیمې شپې وي» دا جمله په ژبه هسې اسانه لوستل کېږي، خو چې کله درک او حس شي، بیا نو سخت درد لري.

له ډېرو خولو مې اورېدلي، زیات ځله مې خپله هم په خبرو کې یاده جمله کارولې، خو دا ځل مې د داسې چا د خبرو په منځ له ساړه اسویلي سره دا جمله«پردی کټ تر نیمو شپو وي» واورېده، چې څېرې او رواني حالاتو یې دروني درد، مایوسي او خپګان په زغرده څرګنداوه.

دا د یوه داسې مهاجر کډوال د ژوند داستان دی، چې د ژوند په ډګر کې د یو ماته خوړلي لوبغاړي په څېر حیران او زړه نا زړه ولاړ دی، ځان سره کړي ربېي، چې شاته تګ وکړي او که ېېرته خپل لوبډلی مرال را پورته او لوبې ته په نه زړه، خو له مجبوریته را مخته شي.

دی اړ دی، چې یو څوک یې په ملا وټکوي او د ژوند د رواني لوبې دوام ته یې چمتو کړي.

راځئ د دې بې وسه کډوال(میراجان د محمد جان زوی د غزني ولایت اندړو ولسوالي اوسېدونکی) داستان د ده له خولې واورو!

»هغه شپې او ورځې اوس راته یو خیال ښکاري، له ژوند څخه مو خوند اخیست؛ پلار، کاکا، ادي، ورونو او کوچنی خور سره به یو ځای د شپې ډوډۍ ته د کوټو مخته په برنډه ناست وو، کشرۍ خور او دوو ورونو به په اسمان کې ستوري انتخابول.

کشرۍ خور به مې دوو کوچنیو ورونو ته ویل:

»آغه غټ ستوری د ابا، دغه بل یو د لالا(زما)، دا له درېیو ورو ستورو د منځ وال یې زما او دواړه خواوو ته تاسې یاست«.

دا له خونده ډک وختونه په چټکۍ روان و، موږ یې د زوال سوچ هم لا نه کاوه، خو یوه ورځ مو ابا وویل، نور به بهر په برنده کې نه کېنو، ځکه وضیعت خراب دی، هسې نه کومه مرمۍ راشي، بیا به یې له چا سره حساب کوو.

دې ورځو کې به د شپې له خوا ډزې زیاتې کېدې، سهار به چې ابا له کوره ووت، په بېرته راتګ سره به یې حالت ښه نه و، کله به یې ویل، چې د فلاني زوی بیګا شپه چا ویشتی، کله به کوم ماشوم نادر که و.

ورځ په ورځ حالات د خرابۍ پر لور روان و، چې یوه ورځ مې ابا او کاکا په خپلو کې سره غږېدل، کاکا مې ورته په خبرو کې وویل، چې نوره ګذاره نه کېږي، هغه زما له خسر سره مې زنګ کړی و، ویل یې چې دلته راشئ، لږ تر لږه سرونه خو به مو په امن وي.

په سبا مې پلار غواوې او پسونه، را نږدې ګنج(د مالونو د پلورلو ځای) ته روان کړل، مازدیګر ځړېدلی سر کور ته راغی، کاکا ته یې ویل، چې مجبوره وم، په تاوان مې ورکړل، کاکا ورته وویل: د سړي سر غم دي نه وي!

اونۍ نه وه تېره، چې پلار مو وویل؛ سبا به له لمر ختو مخکې حرکت کوو، زړه مې ښه و، چې نوي ځایونه به ووینم، لږ به له دا د غواوو او پسونو له څرولو خلتص شم، هغه کلیوال چې ژمی به یې مسافري کړې وه، دوبی چې به کلي ته راغلل، تر نورو به لږ ښه پاک وګرځم او بیا چې کلي ته راشم، هر څوک راسره ښه هم د هغوی په شان پاک وګرځم او بیا چې کلي ته راشم، هر څوک راسره ښه په مینه ناسته ولاړه وکړي.

لنډه به یې درته وکړم، دوه ورځې وروسته مو د کاکا د خسر کور ته، چې د پېښور په ګېټته ګر سیمه کې و، ورسېدو، دوی په خپل کور کې یوه کوټه موږ ته ځانګړې کړه، سړي به مو بهر حجره کې اوسېدل او نور د کور زنانه او واړه مو په همدې کوټه کې اوسېدل.

د مېلمستیا ورځې مو تېرې شوې، ابا او کاکا مې هره ورځ د یو کار په لټه ښار ته تلل، چې څو ورځې وروسته مې ابا راته وویل: میراجانه زویه! تاته به هم یوه ګاډۍ ولګوم، ممپلي به خرڅوې، دا چای ګوره خو به شي.

ما ورته د هو په دود سر وښوراوه، خو ځان سره مې ویل، چې زه به څنګه دا وکولی شم، ځکه ما هیڅ د اخیستلو او خرڅولو تجربه نه درلوده، خو مجبوره وم، ځکه موږ باید دومره څه پیداکړي وای، چې د خوراک ښناک تر څنګ مو یو دوه کوټې هم جوړې کړې وای.

اونۍ وروسته له خپل کار سره ښه بلد شوم، په شوق به مې سهار ګاډۍ خپل سټاپ( د ودرولو ځای) ته بېوله او مازدیګر به له لږ ګټې وټې سره کور ته راتلم، ژوند ورو ورو منظمېده.

میاشتې همداسې تېرېدې، چې نږدې یو کال وروسته مو د دوو کوټو تهداب کېښود، څو میاشتو کې کوټې تیارې شوې او خپل کور کې مو هستوګنه شروع کړه.

د ژوند سیستم مو ښه شوی و، د لاس او خولې د چلېدو تر څنګ مو یوه سپما هم کوله، چې څه موده وروسته مو یو وړوکی دوکان کېښود، زه او پلار به مې په دوکان کې ناست و او کوچني ورونه او کشرۍ خور مو نږدې ښوونځي ته تلل .شاوخوا ګاونډیان مو هم ټول له هېواده راغلي مهاجر ول، دوی سره مو د کلي او پښتنوالي رواجونه پالل، ټولو ته ورکه خوښي یو ځل بیا را ګرځېدلې وه، ټول به سهار وختي خپلو کارونو او کاروبارونو ته وتل، مازدیګر به د مسجد مخته باندار د کلي یادونه را په زړه کول، خو دلته مو هم ښه ساعت تېر و .

ژوند همداسې په خوند روان و، دلته د اوسېدونکو کډوالو درد، غم او ښادي سره شریکه وه، ټولو کوشش کاوه، چې د ځان او نورو لپاره د یو خیر ذریعه شي، زموږ ځینې ګاونډیان د خپل زیار له کبله د سیمې او ان د هېواد په کچه تجاران شول، دوی ډېر نېکان خلک و، د بې وزله او غریب لاسنیوی یې کاوه او د خیر کارونو کې یې یو له بل څخه ځانونه وړاندې کول.

خو حالاتو یو ځل بیا د ناځوانۍ او نا پیرزوینې پاڼه را واړوله. حکومت اعلان وکړ، چې په غیر قانوني ډول راغلي کډوال دې د یوې میاشتې دننه له هېواده ووځي . دا اعلان نه و، پر موږ سم د غم او ویر زېری و، ټول وارخطا و، کلي کې مو چې ځمکې او جایدادونه ول، هغه خو مو خرڅ کړي و او په پیسو مو دلته واړه او غټ کاروبارونه جوړ کړي و.

دلته مو چې کوم کاروبارونه دي، دا خو هم په په یوه میاشت کې نشي را ټولېدلی، حیران و، چې څه وکړو، هیڅ مو له وسه نه کېدل، پردی هېواد و، چا مو غږ نه اورېده.

د کور، دوکان او نورو سامان الاتو د پلورلو تابیا مو وکړه، خو د هر څه بیې له نیمایي هم را ټیټې شوې وې، دوکان یې په هغه بیه عوښت، چې په کې د شته توکو قیمت یې هم نه پوره کاوه، هغه د دوکان د جوړېدو لګښت خو هسې پر پرېده، کور هم په همدې ډول، خو مجبوره و، بله چاره مو نه لرله.

ځینو ګاونډیانو مو وویل، چې موږ خو نه ځو، ځکه چې چېرته لاړ شو، هیڅ د ورتګ ځای نه لرو.

موږ خپل هر څه په تاوان وپلورل، په نه زړه له ناچارۍ د کرایې موټر کې را کېناستلو، ځینې اړین توکې او سامانونه مو هم راسره را واخیستل، د پلار مې وچې او پترې نیولې شونډې سره وښورېدې او په دردناکه لهجه یې وویل « ای های رېښتیا چې پردی کټ تر نیمي شپې وي.»

سرحد ته له را رسېدو سره، پولېسو زموږ موټر ودراوه او د چک کولو یې وویل؛ دوی ویل تاسې باید ټول موټر دلته خالي کړئ، ځکه موږ یې باید ووینو، چې څه مو بار کړي دي، له خپګانه مو هسې هم زړونه شنه و، ورته ومو ویل، پر بېموړدئ، چې درنه لاړ شو، موږ د ځان په غم اخته به څه درنه یوسو، خو دوی دواړه پښې په یوه موزه ننیستلې وې، د هیچا یې نه اورېدل، بالاخره ډرېور وویل، چې دوی ته یو څه شریني ورکړئ، نور کار نه درسره لري، له مجبوریته مې کاکا د پولیس جېب ور ګرم کړ او موټر ته یې اجازه ورکړه.

له سرحد چې راواوښتو، حیران و، چې چېرته به ځو، که تنها خپل ځان وای، هر چېرې مو یوه ګذاره کولی شوای، خو تورسرې ښځې، ماشومان او کور را له غاړې دی.

په همدې سوچونو کې و، چې موټر ودرېد، درې نفره را وړاندې شول، یوه په کې سور واکټ په تن کړی و، دوو یې ځانونه د حکومت مسؤلین او همدې د سره واکټ وال ځان د افغاني سرې میاشتې رضاکار معرفي کړ، دوی راته په ورین تندي د ښه راغلاست جملې وویلې، د دوی له کلمو ښکارېدل، چې خبرې یې له زړه راوځي او موږ ته خوښ دي.

هغه کس چې ځان یې د افغاني سرې میاشتې رضاکار معرفي کاوه، پوښتنه وکړه، تاسو چېرته ځئ؟

پلار مې ورته وویل، وروره، ځای مو نه دی معلوم، حیران یو، چې چېرته لاړ شو؟

ځوان مسک شو، ویې ویل؛ تاسو غم مه کوئ د تر څه بندوبست مو درته کړی، دلته مخته یو پنډغالی دی، موټر هلته در وګرځوئ.

دې خبرې سره مو څېرې وغوړېدې، د پلار له خولې مې دعا ووته، خدایه بې خپلو مو مه کړې!

پنډغالي کې مو موټر خالي کړ، هلته مو څو نور ځوانان هم ولېدل، چې همدا سره واسکټونه یې پر تن و او داسې معلومېدل، چې لیدونکو به فکر کاوه، چې دا خلک لکه چې د کوم واده بڼ لویې غونډې لپارت تیاری نیسي.

ځینو یې خېمې درولې، ځینو لوی لوی دیګونو کې د خوراکونه په تیارولو بوخت و، مخامخ یوه خېمه باندې چې د سرې میاشتې نښان هم ورباندې نصب و، د ناروغانو د درملنې ځانګه ورباندې لیکل شوي و.

موږ ته یې هم دوه خېمې را ځانګړې کړې، خېمو ته په ور ننوتو سره مو ولېدل، چې کمپلې او توشکې یې مخکې له مخکې راته تیارې کړې وې، حیران و، چې موږ اوس دلته راکډه شوي یو او که میلمستیا راته شوي.

ورځ لا نه وه شپه شوي، چې یوه درې کسیزه ډله د خېمې مخې ته راغله او له پلار څخه مې ځینې پوښتنې وکړې او په کتابچه او مبایل کې یې څه ځان سره ولیکل، پلار مې ویل؛ دوی د افغاني سرې میاشتې رضاکاران و، دوی سروې کوي او موږ ته خواړه، درمل او نور توکي برابروي.

مابښام مهال بیا یو موټر چې د افغاني سرې میاشتې بیرغ ور باندې نصب و، په پنډغلي کې په خېمو ګرځېدو او په سپینو یو ځل مصرف لوښو کې یې خواړه په کډوالو وېشل.

زموږ هغه سوچ تو فکر اوس ورک شوی و، چې څو ساعته وړاندې مو د هسوګنې د ځای د نشتون له غمه په سر کې تاوېده، اوس موږ ته تر څه تیار راتلل، کشره خورکۍ، چې د یخنۍ له وجې زکام شوې وه، زیاته ټوخېدله.

په سهار هماغه بیګنۍ رضاکاران په خېمو ګرځېدل او خلکو ته یې ویل، چې که څوک مو ناروغ وي، هاغه مخامخ خېمه کې د افغاني سرې میاشتې د ګرځند روغتیایي ټیم ډاکتران او هم درمل شته، ورشئ، چې په وړیا ډول مو درملنه وکړي، ما هم خپله کشرۍ خور ځان سره کړه او خېمې ته ورغلو، ډاکترانو د درملو ترڅنګ ډاډ هم راکړ، چې حوصله وکړئ، هر څه به بېرته سم شي ان شاءالله.

اوس چې دا دی، په دې پنډغالي کې مو نن نهمه ورځ ده، د ژوند ټولې لومړنۍ اړتیاوې راته افغاني سرې میاشتې برابرې کړې دي، د دوی او مسؤلینو دې کور ودان وي، خو دا زموږ لپاره بسنه نه کوي، ځکه موږ باید د خپلو کورونو خاوندان شو، موږ به په خپلو متو هم زور کوو، خو له نړیوالو او کورنیو خیریه بنسټونو، خیرپاله وګړو او شتمنو څخه مو هیله او غوښتنه دا ده، چې په دې سختو شرایطو کې زموږ لاسنیوی وکړي، څو موږ په خپلو پښو ودرېږو او د ټولنې د اوږو بار نه شو».

هلال احمر افغانی بر اساس اصل عدم جانبداری در منازعات مسلحانه از هیچ طرف حمایت نمی کند!



Bi-Weekly

# SRA MIASHT

Dissemination Department of ARCS

29th Nov 13th Dec 2023 _ Volume: 34

## ARCS laid the foundation stone of fixed health clinic in Nangarhar province



On 23rd of Jamidul Awwal, Mr. Mawlavi Matiul Haq khalis, Acting President of ARCS, laid the foundation stone of fixed health clinic which cost around two and half million AFN, on the land dedicated by local people in Dawlat Abad area of Chaprihar district, Nangarhar province.

during laying the foundation stone of the clinic, Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis said in his remarks, "Afghan Red Crescent has opened two new centers for psychiatric patients in the past one year and has established many healthcare centers and trying to increase the number of psychiatric patients care centers". He said, "It is our joint responsibility to reach our citizen; its will not be our first and last service and we will be serving our nation as per our ability in every region".

Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis expressed that without the support and involvement of the nation, it will not be possible for Afghan Red Crescent to response to the needs of the people of Afghanistan alone. The tribal leaders thanked Afghan Red Crescent for helping and approving the health center.

Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis expressed that without the support and involvement of the nation, it will not be possible for Afghan Red Crescent to response to the needs of the people of Afghanistan alone.

The tribal leaders thanked Afghan Red Crescent for helping and approving the health center. Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis expressed that without the support and involvement of the nation, it will not be possible for Afghan Red Crescent to response to the needs of the people of Afghanistan alone. The tribal leaders thanked Afghan Red Crescent for helping and approving the health center.

## Editorial:

### Extending Support to Vulnerable Individuals During the Winter Season

Out of the four seasons of the year, the last season is full of suffering for Afghans and especially for the vulnerable citizens, in this season, the level of coldness, the necessities of life and the expenses are increasing & economic hardships prevent them to adequately fulfill their basic needs and have necessary preparations for the winter season.

Humanitarian society, which is consist of various classes and all classes have special responsibilities towards each other, among them, the upper class has the responsibility to reach out the lower class and obliged to provide them with necessary facilities.

In Islam, the most virtuous actions in the path of Allah almighty are to assist those in need, donate to the less fortunate, and address their problems. in Islam, a Muslim is regarded as the brother of another Muslim, and it is expected for them to empathize with their sorrows and share in their joys. the current situation faced by the impoverished and homeless individuals, it is incumbent upon all Muslim brethren to have a sense of responsibility towards their well-being and reach them to their best.

According to the principles of Islamic brotherhood, affluent individuals should not only provide food for the impoverished and needy people but also take responsibility to supply adequate cloths, warm garments, and shelter to widows, orphans, and the less fortunate individuals.

As this winter has brought numerous challenges and hardships to the citizens including for the earthquake-hit people of Herat province and refugees deported from neighboring countries, therefore, it is necessary for international humanitarian organizations, domestic charitable societies, and rich people to fulfill their responsibility in these sensitive moments and reduce the sufferings and problems of the needy people.

Afghan Red Crescent as the only national charitable organization in the country, always endeavors to reduce the problems and sufferings of the needy and vulnerable citizens and provide them with a comfortable life.

This humanitarian foundation is not the budgetary unit of the government and carries out all its humanitarian activities with the support of benevolent people, thus once again, its calls on all citizens, especially the rich, to support Afghan Red Crescent in order to reach out the needy, refugees and affected people in the winter season.

Office

## Acting President of ARCS paid a visit to psychiatric patient care center and Marastoon in Nangarhar province



On the 23rd and 24th of Jamadi ul Awwal, the acting president of ARCS, Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis, paid a visit to the psychiatric patient care center and Marastoon of the eastern provinces in Ningarhar province.

In his visit, Mawlavi Matiul Haq Khalis first met the psychological patients and evaluated the services provided to them. likewise, he assured them that they will help them to their best and his greatest wish is their health. He provided necessary recommendations to the officials and health workers of the said center and instructed them to try their best to treat the patients with care and compassionately. Further, Mr. Khalis met the resident of Marastoon in Ningarhar province, listened to their problems and assured for solution.

## Provision of 300 tons of foodstuff to 4846 families by ARCS

in the last 15 days of Jamadi Al Awwal, Afghan Red crescent distributed 300.45 tons of foodstuff to 4846 needy, vulnerable, and affected families.

Among these families, Afghan Red Crescent provided foodstuff to 4100 earthquake-hit families in Herat, 500 needy families in Kabul, 200 vulnerable families in Maidan Wardak and 45 families in Nuristan province.

The aid which was provided by King Salman foundation, each family received 62kg food items, included 40 kg flour, 5 kg rice, 5 liter of oil, 5 kg sugar, 8 kg beans and 2 kg dates.






## MTN Communication Company handed over 500 food and non-food packages to assist the earthquake-affected families of Herat province

On 28th of Jumadi Al Awwal, to help 500 earthquake-affected families in Herat province, MTN Communication Company handed over 500 food and non-food packages to Mr. Alhaj Mullah Nooruddin Turabi, vice president of Afghan Red Crescent.

during aid handing ceremony, Mr. Turabi thanked MTN company for constantly helping Afghan Red Crescent.

He said, "This aid will soon be distributed to the earthquake-affected families in Herat province".

In addition to various food items, the aid included 1000 jumpers and 500 blankets for earthquake victims to protect thems from the cold.


## Qatar handed over 508 tons of food and non-food items to ARCS

On 17th of Jamidul Awwal, Qatar handed over 508 tons of food and non-food items to assist the victims of the earthquake in Herat province to Mawlavi Abdul Latif Sabit, deputy secretary general of ARCS, at Khawaja Abdullah Ansari Airport, Herat province.

During the handing over ceremony of the aid, Mr. Abdul Latif Sabit, thanked Qatar for its cooperation with Afghan Red Crescent and stated "Afghan Red Crescent from the first day of the earthquake had endeavored to pursue international aid to the earthquake-affected countrymen and will continue their efforts".

Mr. Abdul Latif Sabit added, "We request the international welfare organizations to provide extensive assistance in the construction of houses for the earthquake victims, so that the affected people can enjoy safe shelter."

The aid included 11200 blankets, 40 tons dates, 3642 food packages, 250 tents and 2000 hygiene kits.



## Afghan Red Crescent distributed around 51 tons meat to 4617 families



In the last two weeks of Jumadi Al Awwal, Afghan Red Crescent distributed 51.3 tons of meat to 4617 unfortunate families in 10 provinces (Paktia, Logar, Paktika, Maidan Wardag, Kabul, Parwan, Kapisa, Nangarhar, Kunar and Laghman).

The meat distributed to 513 needy families in Paktia, Logar, Paktika, Maidan Wardak, Kapisa, Kunar and Laghman provinces, 300 families in Parwan, 555 in Kabul and 684 families in Nangarhar province.

The aid which was provided by Saudi Aribia, each family received 10 kg meat.

## ARCS distributed 30 million AFN to 1000 needy families in Farah province



On 26th of Jamidul Awwal, Afghan Red Crescent distributed 30 million AFN to 1000 needy families in Balablok district of Farah province.

In the aid each family received 30000 AFN.

## ARCS distributed 2,455,000 AFN cash assistance to 491 beggar families



On 17th, 22nd, 27th and 29th of Jamadiul Awwal, Afghan Red Crescent distributed 2,455,000 AFN cash assistance to 491 beggar families in Ghor, Bamyan, Panjshir, Samangan and Paktia provinces.


Among these beggar families, cash assistance provided to 395 beggar families in Ghor, 10 in Bamyan, 21 in Panjsher, 23 in Samangan, and 42 in Paktia province, where each beggar family received 5000 AFN.

## Afghan Red Crescent provided non-food items to the drug addicts center



On 29th of Jumadi Al Awwal, Afghan Red Crescent provided non-food items to drug addicts center in Charkhi Pul area of Kabul province where 7,500 drug addicts are under treatment.


The aid which was provided by Turkey, included 90 tons of coal, 30 tons of oak wood, 5 tons of birch wood, 60 original Turkish heaters, 20,000 liters of diesel oil, 3,000 liters of patrol and 60,000 meters of cloth.



## ARCS distributed hot meals to 15710 people deported from neighboring countries

From 16th to 30th of Jamidul awwal, Afghan Red Crescent distributed hot meals to 15710 people deported from neighboring countries in Nangarhar and Kapisa provinces.

Among these refugees, 10,300 people were provided hot meals in Nangarhar and 5,410 in Kapisa province, which included rice, meat, vegetables, fresh fruits, drinking water and dates.



## ARCS referred 162 children suffering from ventricular septal defects to hospitals

In the last two weeks of Jamadul Awwal, Afghan Red Crescent once again referred 85 children suffering from ventricular septal defect to domestic hospitals in Kabul for treatment and surgery.

The entire cost of the treatment of these patients is covered by ARCS.

It is worth mentioning that Afghan Red Crescent has referred 2664 children suffering from the said disease to various hospitals in the country for treatment in last 17 months.

## ARCS celebrated international volunteer's day in 34 provinces

On 22nd of Jamadiul awwal, Afghan Red Crescent celebrated international volunteer's day in 34 provinces of the country.

In these celebration gatherings, participants received extensive presentations and discussions highlighting the significance of volunteers' activities and their contributions.

International Volunteer Day is globally celebrated on the fifth of December each year, highlighting the significance and value of the volunteering principle, and encouraging people to actively engage in volunteer services.During the sessions, Afghan Red Crescent's local officials emphasized that voluntary services is a basic principle of Afghan Red Crescent, based on which a group of people willingly perform humanitarian services with the staff of this charitable society.

As per the statement of the official, Afghan Red Crescent currently have 24,879 volunteers nationwide. These dedicated individuals consistently provided humanitarian services to those in need and affected people, collaborating with Afghan Red Crescent staff in both normal and emergency situations.




**ARCS does not support any side in armed conflicts, based on impartiality principle!**



نصف شهريه

# سره میاشت

قسم المنشورات للهلال الأحمر الأفغاني

العدد:٣٤

١٦-٣٠ جمادی الاولی - ١٤٤٥ هـ ق


## تم وضع حجر أساس
## المستشفى لعيادة ثابتة في ولاية ننجرهار



تم وضع حجر أساس المستشفى الثابت في ٢٣ من جمادى الأولى من العام الجاري ١٤٤٥هـ في مديرية جبرهار بولاية ننجرهار من قبل الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني السيد مولوي مطيع الحق خالص بتكلفة حوالي مليونين ونصف أفغاني على قطعة أرض تبرع بها أهالي المنطقة.

وعند وضع حجر الأساس للمستشفى المذكور، قال السيد مولوي مطيع الحق خالص في كلمته: بالإضافة إلى افتتاح المركزين الجديدين للمرضى النفسيين، قام الهلال الأحمر الأفغاني بافتتاح العديد من المراكز الصحية ونحاول أن نزيد عدد مراكز مرضى النفسيين.

وقال: إن التعاون مع الناس مسؤوليتنا المشتركة، وهذه الخدمة لن تكون الأولى والأخيرة لنا، وسنقوم بخدمة أبناء الوطن في جميع أنحاء البلاد بكل ما نملك.

وقال السيد مولوي مطيع الحق خالص: "إن لم تتعاون الشعب مع الهلال الأحمر الأفغاني، فلن يتمكن الهلال الأحمر الأفغاني من تعاون المواطنين بمفرده." في حين شكر شيوخ القبائل في كلماتهم الهلال الأحمر الأفغاني على هذه المساعدات وتوفير المركز الصحي لهم.

## قام الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني بزيارة مركز العلاج والحماية للمرضى النفسيين




قام الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني بتاريخ ٢٣ و ٢٤ بزيارة مركز الحماية وعلاج المرضى النفسيين التابع للهلال الأحمر الأفغاني في ولاية ننجرهار للولايات الشرقية.

ضمن هذه الزيارة في البداية التقى الرئيس بالمرضى النفسيين وأثناء استقبالهم قام بتقييم الخدمات المقدمة للمرضى. و كذلك أكد للمرضى النفسيين أنه سيساعدهم بقدر ما يستطيع وأن أمله الأكبر هو سلامتهم الصحية. اثناء ذالک قدم التوصيات اللازمة لمسؤولي وأطباء مركز الحماية وعلاج المرضى النفسيين واوصاهم بأن يبذلوا قصارى جهدهم لعلاج المرضى والتعاطف معهم أثناء العلاج والتداوي.

و كذا التقى السيد خالص بأهالي الاسر الموجودة في مركز الإعانة والحماية بولاية ننجرهار واستمع إلى ما مشاكلهم و وعدهم بحلها.

## قامت شركة أريبا (MTN) للاتصالات
## بتسليم ٥٠٠ حزمة من المواد الغذائية وغير الغذائية للأسر المتضررة من الزلزال في ولاية هرات



قامت شركة MTN للاتصالات المصادف لـ ٢٨ من شهر جمادي الأولى بتسليم أكثر من ٥٠٠ سلة من المواد الغذائية وغير الغذائية لـ ٥٠٠ أسرة متضررة من الزلزال في ولاية هرات إلى السيد الحاج ملا نور الدين ترابي، نائب الهلال الأحمر الأفغاني.

وشكر السيد ترابي أثناء تسليم هذه التبرعات شركة MTN على مساعدتها الدائمة للهلال الأحمر الأفغاني.

وقال: سيتم توزيع هذه المساعدات على الأسر المتضررة من الزلزال في ولاية هرات قريبا.

وفي هذه المساعدات المذكورة إلى جانب المواد الغذائية المختلفة، تم ١٠٠٠ معطف شتوية و ٥٠٠ بطانية للأسر المتضررة من الزلزال.


## سلمت دولة قطر ٥٠٨ أطنان
## من المواد الغذائية وغير الغذائية للهلال الأحمر الأفغاني

تم تسليم ٥٠٨ أطنان من المساعدات الغذائية وغير الغذائية في ١٧ من جمادى الأولى إلى نائب أمين العام للهلال الأحمر الأفغاني، السيد مولوي عبد اللطيف ثابت لمساعدة متضرري الزلزال في ولاية هرات في مطار خواجة عبد الله الأنصاري الدولي.

عند حديثه مع الاعلام شكر نائب أمين العام للهلال الأحمر الأفغاني عند استلام المساعدات المذكورة دولة قطر بمساعدته الهلال الافغاني في الاوقات الحرجة.

و اضاف: بذل الهلال الأحمر الأفغاني منذ اليوم الأول جهوداً لجذب المساعدات الدولية للمتضررين من الزلزال وسيواصل هذه الجهود. وقال السيد عبد اللطيف ثابت: "نطالب المنظمات الدولية بالمساعدة في بناء منازل لضحايا الزلزال حتى يتمكن المتضررون من الحصول على مأوى آمن". و شملت هذه المساعدات: ١١٢٠٠ بطانية و ٤٠ طن من التمور، و٣٦٤٣ حزمة من المواد الغذائية، ٢٥٠ خيمة و ٢٠٠٠ حزمة صحية.

بما ان هذه الجمعية الخيرية ليست داخلة في ميزانية الحكومة و تقوم بجميع أنشطتها الإنسانية بدعم من أهل الخير، لذا يدعو جميع المواطنين، وخاصة الأغنياء، إلى دعم الهلال الأحمر الأفغاني من أجل معاونة الفقراء واللاجئين والمعدومين في فصل الشتاء.



## تم توزيع حوالي
## ٣٠٠ طن
## من المواد الغذائية على ٤٨٤٦ أسرة

قام الهلال الأحمر الأفغاني في النصف الأخير من شهر جمادى الأولى بتوزيع ٣٠٠,٤٥ طن من المواد الغذائية على ٤٨٤٦ أسرة فقيرة و محتاجة.

ومن بين هذه الأسر وزعت المساعدة على ٤١٠٠ أسرة متضررة من الزلزال في ولاية هرات، و ٥٠٠ أسرة فقيرة في ولاية كابول، و ٢٠٠ أسرة معوزة في ولاية ميدان وردك ، و ٤٥ أسرة في ولاية نورستان.

المساعدات المذكورة التى وفرها مؤسسة الملك سلمان الخيرية، حصلت كل اسرة على ٦٢ كيلو مواد الغذائية، حيث شملت حزمة المساعدة ٤٠ كيلو دقيق، و ٥ كيلو أرز، و ٥ لتر زيت، و ٥ كيلو سكر، و٨ كيلو لوبيا، و ٢ كيلو من التمر.



## مقدمة:
## الشتا والتعاون مع الفقراء!

يعتبر الفصل الأخير من فصول السنة الأربعة موسماً مليئاً بالمعاناة للأفغان وخاصة للمواطنين الفقراء والمعدومين، ففي هذا الموسم ترتفع نسبة البرد و تزداد احتياجات الناس ونفقاتهم، ويواجه المواطنون الفقراء المشاكل الإقتصادية بحيث لايقدرون على تلبية احتياجاتهم الأساسية والقيام بالاعداد المناسب لهذا الموسم.

المجتمع الإنساني، يتكون من طبقات مختلفة، ولكل طبقة مسؤولياتها الخاصة تجاه البعض، ومن بينهم الطبقة الميسورة لها مسئولية خاصة تجاه الفقراء فهم ملزمون بتقديم التسهيلات اللازمة حسب استطاعتهم للفقراء والمعدومين. و إن مساعدة المحتاجين والمعدومين في ديننا الإسلامي المبارك، تعتبر صدقة والسعي في حل مشاكلهم من أفضل أعمال الخير.

والمسلم أخ المسلم قال الله عزوجل: "إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ" (سورة الحجرات الآية ١٠) ولذلك يجب عليهم أن يعيش ويتألم لآلام أخيه المسلم الفقير والمعدوم الذي ليس له طعام للأكل ومأوى للمبيت، فيجب على المسلمين أن يشعروا بأرواحهم وأجسادهم تلك الآلام والمصائب، وأن يحضوا الناس على مساعدتهم و ان يقوموا بكل ما اوتوا، قال رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم: "مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ في تَوادِّهِمْ، وتَراحُمِهِمْ، وتَعاطُفِهِمْ مَثَلُ الجَسَدِ إذا اشْتَكى منه عُضْوٌ تَداعى له سائِرُ الجَسَدِ بالسَّهَرِ والْحُمّى" (متفق عليه).

فبالإضافة إلى توفير الغذاء للمواطنين الفقراء والمعدومين فإن الأغنياء والأثرياء مسؤولون أيضًا عن توفير الملابس المناسبة والمساكن الدافئة للأرامل والأيتام والفقراء.

و فصل الشتاء هذا العام هو موسم مليء بالمشاكل والمعاناة بالإضافة إلى المواطنين الفقراء لضحايا الزلزال في ولاية هرات واللاجئين العائدين من الدول المجاورة ايضا، لذا يجب على المنظمات الإنسانية الدولية والجمعيات الخيرية المحلية والأثرياء أن ىقوموا بمساعدة هؤلاء الناس في هذه الأيام العصيبة و ان يقلل من معاناتهم.

الهلال الأحمر الأفغاني، باعتباره المؤسسة الخيرية الوطنية الوحيدة في البلاد، يحاول دائمًا الحد من مشاكل ومعاناة المواطنين المحتاجين والفقراء وتوفير الحياة المريحة لهم.

بما ان هذه الجمعية الخيرية ليست داخلة في ميزانية الحكومة و تقوم بجميع أنشطتها الإنسانية بدعم من أهل الخير، لذا يدعو جميع المواطنين، وخاصة الأغنياء، إلى دعم الهلال الأحمر الأفغاني من أجل معاونة الفقراء واللاجئين والمعدومين في فصل الشتاء.

## قام الهلال الأحمر الأفغاني بتوزيع ٥١ طنًا من اللحوم النيئة على ٤٦١٧ أسرة



قامت جمعية الهلال الأحمر الأفغاني بتوزيع ٥١,٣ طنًا من اللحوم النيئة على ٤٦١٧ أسرة فقيرة في ١٠ ولايات وهي بكتيا ولوجر وبكتيكا وميدان وردك وكابول وبروان وكابيسا وننجرهار وكونر ولغمان خلال الأسبوعين الأخيرين من شهر جمادى الأولى.

ومن بين هذه الأسر الفقيرة المذكورة، تم توزيع اللحوم النيئة على ٥١٣ أسرة في ولاية بكتيا ولوجر وبكتيكا وميدان وردك وكابيسا وكونر ولغمان، و ٣٠٠ أسرة في ولاية بروان، و٥٥٥ أسرة في ولاية كابول، و ٦٨٤ أسرة في ولاية ننجرهار. هذه المساعدات وفرها المملكة العربية السعودية حيث وزع على كل أسرة بمقدار ١٠ كيلو من اللحوم النيئة.

## قام الهلال الأحمر الأفغاني
## بتوزيع ٣٠ مليون أفغاني على ١٠٠٠ أسرة في ولاية فراه



وفي ٢٦ من جمادى الأولى، قام الهلال الأحمر الأفغاني بتوزيع ٣٠ مليون أفغاني على ١٠٠٠ أسرة فقيرة في مديرية بالابلوك بولاية فراه، حيث حصلت كل أسرة من هذه الأسر على مبلغ قدرها ٣٠٠٠ أفغاني.

## تم الاحتفال باليوم العالمي للمتطوعين في ٣٤ ولاية

تم الاحتفال باليوم العالمي للمتطوعين من قبل الهلال الأحمر الأفغاني في ٢٢ من جمادى الأولى في ٣٤ ولاية من البلاد. وفي الحفلات المذكورة التي نظمت للاحتفال بهذا اليوم قُدم للمشاركين المعلومات الشاملة حول قيمة أنشطة المتطوعين وفعالياتهم.




يتم الاحتفال باليوم العالمي للمتطوعين كل عام في الخامس من شهر ديسمبر في جميع أنحاء العالم وذلك لأجل إبراز أهمية و قيمة العمل التطوعي و تقديم الاحترام للعاملين المتطوعين.

وفي هذه الاحتفالات قال مسؤولوا الهلال الأحمر الأفغاني في كلماتهم إن الخدمة التطوعية هي أحد المبادئ الأساسية للهلال الأحمر الأفغاني، والتي يقوم على أساسها مجموعة من الأشخاص لخدمة مواطنيهم عن طيب خاطر إلى جانب موظفي هذه المؤسسة الخيرية. وبناءً على تصريحات المسؤولين، يضم الهلال الأحمر الأفغاني حاليًا ٢٤٨٧٩ متطوعًا في جميع أنحاء البلاد، ويقدمون على مدار الساعة الخدمات المختلفة للمحتاجين والمصابين في الحالات العادية والطارئة جنبا الى جنب مع موظفي الهلال الأحمر الأفغاني.

## أحال الهلال الأحمر الأفغاني
## ١٦٢ طفلاً
## مصابًا بأمراض ثقب القلب إلى المستشفيات المحلية



وفي الأيام الخمسة عشر الأخيرة من شهر جمادي الأولى ، أحال الهلال الأحمر الأفغاني مرة أخرى ٨٥ طفلاً الذين يعانون من أمراض ثقب القلب إلى مستشفيات محلية في العاصمة كابول لتلقي العلاج وإجراء العمليات الجراحية، حيث يدفع الهلال الأحمر الأفغاني كافة تكلفة علاج و عمليات الجراحية لهؤلاء المرضى. وجدير بالذكر أنه تم من قبل الهلال الأحمر الأفغاني إحالة مايقارب ٢٦٦٢ طفلا مصابا بهذا المرض خلال الـ ١٧ شهراً الماضية، إلى المستشفيات المختلفة في البلاد لتلقي العلاج وإجراء العمليات الجراحية.

**الهلال الأحمر الأفغاني لاينحاز لأي طرف في النزاعات المسلحة على أساس مبدأ عدم الانحياز والحيادية!**